ليکونکي : کارتر ملکازين(Carter Malkasian).
منبع اودخپريدو نيټه : فارين افير «۲۰۱۵-۱۸۰۸»
ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سيد حسام «مل» .

---

# آ يا په افغانستان کی سوله ممکن دی ؟

## Is Peace Possible in Afghanistan?

### دملا عمر مړنه اودسولی دمذاکراتو راتلونکی

دکال (۲۰۱۵) لمړی اوه مياشت دافغانستان دپاره د سولی دخبرو اترو بی جوړه هلی ځلی مو وليد او هغه داچی دطالبانو اودافغان دحکومت داستا ذ و ترمينځ غير رسمی ليد نی کتنی خپل هسکی سوکی ته ورسيد لی . اما دجولی په (۷) نيټه په پاکستان کی ددواړو خوا ترمينځ رسمی خبری اتری پيل شو اوپه همدی لمړنی غونډه کی دد وهم ځل ملاقات د پا ره د جولای د ميا شتی (۳۱) نيټه وټاکل شو . دغه غونډه سره دهغه چی لمړنی غونډه وه خو له اوضاعو څخه داسی معلوميدل چی درينتنی خبرو اترو کوم چی د هغه په رنا کی به سوله په افغانستا ن کی را مينځته شی نژدی راښکاريده . له بلی خوا څخه دجولای دمياشتی به (۲۹) کی نړيوال د ملا محمد عمر د طالبانو د مشر له مړنی څخه خبر شول ، ملاعمر يعنی هغه سړی چی دهغه د جملی اودکلماتو له مفهوم څخه داسی معلوميد ل چی هغه د سولی د مذاکراتو په اړين ويلی چی که هر ډول خبری د سولی دپاره کيږی هغه ته بايد اطمينان ورکړی چی دهغه تر شا طالبان بايد ولاړ اوسی يعنی بی د طا لبا نو دهوکی اودګډون څخه سوله اومذاکرات مونږ ته څه اهميت نه لری نو دهمد ی اصل پربنياد باندی سياسی کار پوهانو داسی وايی : چی دملا عمر له نظره هرهغه معامله اويا هرډول خبری اتری چی د سولی د پاره بی دهغه له مستقيم ګډون څخه تر سره شی غير قانونی اوغير شرعی بلل کيږی .

اوس ټولو ته پوره ځرګند شول چی د ملا محمد عمر دمړنی په اعلا ن سره دسولی دپاره خبری اتری په ټپه ودريدل يعنی چی دجولای د(۳۱) نيټی غونډه تر نامحدود مودی پوری وځنډول شو ، او په عين زمان کی دملا محمد عمر

ځای ناستی ملا اختر محمد منصور دسولی دپاره خبری اتری رد کړ او بیا له سره دامریکی دمتحده ایالاتو اود افغانستا ن پر ضد جهاد اعلان کړل چی دهغه دجهاد دبیا له سره په اعلان سره وروسته د یوی اونی څخه په تیریدو څلور ورځی وروسته دکابل ښار ددری بمی غټو چاودونو له امله په خاورو اودوړو کی غرق شو چی په پایله کی یی د(۴۰۰) نفرو څخه زیات دکا بل میشته خلکو مړاو ټپیان شول کوم چی ددی دری بمی چادونو مسولیت طالبانو پخپل غاړه واخیستل نو ددی پورتنی یادونو څخه دلته هغه سوال چی رامینځته کیږی هغه دادی چی دسولی دپاره پرانستل شوی کړکی بیرته وتړل شو .



وسله والو طالبانو دافغانستان په یو نامعلوم ځای کی (جنوری ۲۰۰۹)

**د طالبان له خوا دسولی دمذاکراتو تر شا غورځول :** دقدرت اود واک دترلاسه کولو په مبارزه کی د طا لبا نو دوبید ل له هغه هد ف څخه مرام دی کوم چی اختر محمد منصور په ډیر هڅه اواند کی دی چی د خپلو سیا لو

جګړه مارو لکه **عبدالقیوم ذاکر** اود ملاعمر ځوی **یعقوب** کوم چی هریو درهبری اود حاکمیت د پا ره ځان مستحق ګڼی خپل موقیعت او مصونیت را ټینګ کړی . نو د دی کړکیچ اومبارزی څخه ممکن دوه پایلی (نتیجه) تر لاسه شی یعنی د دعوی هر یو اړخ دسولی د مذاکرا تو څخه غواړی چی ځانګړی لاسته راوړنی ترلاسه کړی **یو هغه لاسته راوړنه** **چی د طا لبا نو غورځنګ په وحد ت او یوالی کی پا تی شی او یو واحد مشر او رهبر ولری چي هغه که اخترمحمد منصور اویا یو دهغه له سیا لانو څخه وی اوبل نورو ټولو ته ما تی ورکړل شی اوپه ګډه سره حرکت وکړی اوپه دی شان په ډیر موثر بڼی سره خپل واک او حاکمیت وچلوی - اوپه دی شان سره نوی رهبر خپل غښتلتیا ثابته کړی .یعنی دغه نوی ټاکل شوی رهبر خپل ټولو د جګړی ملګرو ته وښیی چی هغه ددی توان او قدرت لری چی دخپل مبارزی بیرق د امریکی دمتحده ایالاتو اودافغانستان دحکومت پر ضد رپانده وسا تی اما دیاده باید ونه ایستل شی اوهغه داچی د عراق و شام اسلا می دولت «داعش» موجودیت طالبانو ته هم یو لوی ګواښ بلل کیږی نو په دی ارتباط دغه نوی رهبر باید دهغو سره په جګړه کی هم له ځا نه زړه ورتیا - مهارت او دخپل ملګرو دمورال په لوړ سا تلو کی پوره غښتیلتیا وښیی – نو دهمدی دلایلو په نظر کی نیولو سره هر یو نوی رهبر خا ما خا د یو نژدی وخت دپاره دسولی دمذاکراتو څخه باید ډډه وکړی تر څو چی خپل موقف د خپل ملګرو په مینځ کی ټینګ کړی .**

کیدای شی چی دشپږو میاشتو اویا دیو کال په تیریدو سره ننی روان حالات اووضع په افغانستان کی بد لون ومومی - دجګړی میدان سوړ شی - دافغانستان دوحدت ملی د حکومت په پالیسی کی یو څه انعطا ف راپیداشی اودچین له خوا پر پا کستا ن باندی زیات فشا ر واچول شی چی طالبان دسولی دمذاکری د پاره د مذاکراتو پرمیز با ند ی له سره کیښنوی- نو که چیری دغه پورتنی وړاندیزونه د حقیقت جا می واغوندی نو په هغه صورت کی ددی ضرورت لیدل کیږی چی طالبانو تر یوه چتر اودیواحد رهبری تر قیادت لاندی سره یوموټی شی تر څو چی د سولی اخری توافق ته ورسیږی اودانشعابی ګروپونو له سردرګمی اودوخت له ضایع کیدو څخه ډډه وشی .

لکه چی مو مخکی یاده کړ د ملاعمر په لاس د وډ(vote) کارت تل دهغه

ددی نظر اوباور سره یوځای وه او هغه داچی که دافغانستان د پرابلمونو د حل وفصل لاره سنجول کیږی نو طالبانو باید دهغه معاملی اویا دتوافق ترشا ولاړ اوسی یعنی دمعا ملی اصلی اړخ باید اووسی اوبیغیر د هغه هر ډول دسولی معامله او توافق بی زمونږ دګډون څخه غیر مشروع او غیر قانونی بلل کیږی .



**ملا محمد عمر دافغانی دطالبانو رهبر**

دلته یوه مطلب چی دهغه یادونه ضروری ګڼل کیږی هغه دا دی چی آیادغه نوی رهبر چی دطالبا نو له خوا ټاکل کیږی اویا که ټاکل شوی وی په اوږد مهال وخت کی هغه په ریښتنی اود زړه دکومی سره د سولی در امینځته کیدو په لټه کی تر یوه حده پوری د یو ثا بت احسا س اودریځ څیښتن به وی او که نه ؟ اما غربی نړی داختر محمد منصور سولی ته د هغه د تما یل په

*اړه څه روښانه او څرګند معلومات نه لري یعنی هغو ته د منصوردریځ دسولی په اړه مبهم ښکاری په هرصورت په دی اخرو وختونو کی غربی رسنی پخبلو راپورونو کی د ملا اختر محمد منصور په اړه داسی څرګند ونی کړی دی اوهغه داچی **دیوی خوا** منصور د پا کستان تر فشارلاندی مجبور ګرځول شوی چی دملامحمد عمر(سره دهغه چی ملاعمردیر مخکی مړ شوی دی ) له طرفه یو جعلی رسمی پیام افغانی لوری ته ولیږی چی زه ملا محمد عمرد طا لبا نو مشر سوله جا یز ګنم او د سولی د مذاکراتو سره کوم مخالفت نه لرم. او**د بلی خوا** څخه بیاهم همدغه پاکستان د ملا اختر محمد منصور قبیلی ته هغه دیو تند رو مجاهد په بڼه ور پیژندلی دی چی منصور خورا ډیر تینګ او کلک سړی دی .*

*اختر محمد منصور دکال (۲۰۱۴) څخه څه موده مخکی ویلی وه : زه داسی فکر کوم چی دغه روانه جګړه یو کال نوربه هم دوام وکړی هغه دځبل خبرو په دوام کی ویلی وه ما چی طالبان په کال (۲۰۰۱) کی لیدلی وه چی دغه جګړی دپاره څرنګه ځان سمبالول نوپه دی اړه زه اوس هم پوره ډاډ من یم چی طا لبا نو دا توان اوقدرت لری چی پخبل هوډ با ندی تینګ درېږی اوپه دی لاره کی هرډول سر ښیند ینی ته چمتو دی .*

***بله یا دوهمه** پایلی دطالبانو دروان مبارزی اودقدرت ترلاسه کولو په مقابل کی څند خپل مینځی دښمنی اود اسلامی دولت یا د(داعش ) را مینځته کید ل اودهغو د پراخیدو اودډیریدو موضوع ګڼي چی طالبان یی دکړکیچ سره مخامخ کړی اودهمدی اصل په نظر کی نیولو سره اوس زیا ت طالبان خپل وفاداری نورو قوماڼد انو ته ښکاره کړی دی او غواړی چی د بغا وت اوشورش نوی ډ لی تپلی سره جوړکړی نو په دی سناریوکی « داعش» ممکن وړونکی اووسی اویا په یوه قوی ګروپ باندی سره بد له شی او په دی صورت سره به دسولی دمذاکراتو اوپر هغه باندی دتوافق اخرنی چانس صفر ته ورسیږی اودافغانستان جمهور ریس ښاغلی اشرف غنی به د سولی د مذاکراتو د پاره پارتنر( شریک) به ونه لری اویا داسی قدرت او توان به تر لاسه نکړی چی دغه روان شخړه او خشونت له مینځه ویسی .***

*اوس حتی په دغه مورد کی دلته یوه روښانه خوا یا اړخ دطالبانو تیوتی کیدل اودعراق وشام اسلا می دولت (داعش) تر سترګو کیدل دی چی شا ید*

ددوی ترمینځ ډیر شدید جنګ اوجګړی پیل شی(لکه چی اوس دم درحال په ننګرهار کی دغه شان جګړه ددی دواړو خواوو ترمینځ شروع شوی دی ) نو په دی صورت کی دافغان داردو سرتیری د جګړی په میدان کی به دغتو بریالیتوبونو ځیښتن شی **غنی د افغا نستان جمهور ریس د توټی توټی شوی طالبانو دسرګروپونو سره به په فردی بڼه دسولی خبری وکړی چی دا پخپله که په دی شان سره سوله مینځ ته راشی نو هغه سوله به ونشی کړی چی موجوده شخړی له مینځه ویسی بلکه غنی ته ببا دا چانس تر لاسه شی چی ددی ا نشعا بی ګروپونو په لا توټی توټی کولو سره ځپل دولت غښتلی کړی**

**لوی شرط بندی** : د(۲۰۱۵) کال په لمړی نیمایی کی دافغانستان – پاکستان دحکومتونو ترمینځ همکاری چین دی ته وهځول شو چی ددی دوه نوموړی هیوادونو سره دمینځګړی په توګه دسولی خبری اتری فعال او ګړندی کړی نو دهمدی همکاری په نظر کی نیولو سره « اشرف غنی »دافغانستان منتخب جمهور ریس دخپل زعامت په اوایلو کی پاکستان ته سفر وکړ او هغه هیواد ته دخپل رسمی خبرو په ترڅ کی د یولړ امتیا زونو وعده ورکړ اوکله چی له پاکستان څخه بیرته کابل ته راستون شو - نواز شریف د پاکستا ن لمړی وزیر اودپاکستان داردو دټولو قواوو مشر راحل شریف پر طالبانو باندی فشار وغورځول چی دافغانستان د حکومت د استا زو سره د سولی خبرو ته کینینی. اودبلی خوا څخه چین چی دپاکستان سره خپل نژدی اړیکی ساتلی دی نو دهمدی نژدی اړیکی په لرلوسره یو غټ نقش ترسره کړ اوهغه داچی دسولی دمذاکراتو دپیل دپاره یولړ اسانیاوی برابرکړ.

دملا عمر په مرګ سره بیاهم د چین اود پاکستا ن ترمینځ دخواړخیزو همکاریو په روند کی څه ستر بدلون مینځ ته را نغی. اوهغه داچی دغه دواړه هیوادونه په یوه دریځ کی ددی طرفدار دی کوم چی هغوی نه غواړی چی په افغانستان کی کورنی جګړه لا پسی اوږد شی – دیاده باید ونه باسو چی د ملا عمر دمرګ په اعلان سره دپاکستان اودچین ترمینځ مناسبات او همکا ری یو څه سخت اوجنجالی ځیره ونیول اوپه عین زمان کی اشرف «غنی» تر یولړ سخت اوکلک نیوکو لاندی راغی اوبیا په ځانګړی ډول د افغانستان د پخوانی جمهور ریس حامد «کرزی» تر انتقاد لاندی اوهغه داچی «غنی» ددی د پاره چی پاکستان طالبان دمذاکری میز ته راولی هغه هیواد ته د ډیرو زیا تو امتیا ز

ورکولو ژمنه کړی یعنی دیو ناچیز مرستی په مقابل کی دزیاتی مرستی وعده ورکول هغه څه دی چی پر غنی باندی باید انتقاد اوشی- دملا عمر په مړنه سره اوس دغنی دهغه سرمایه ګذاری ګټی په کابل کی بمی چاودنه وه چی دغنی دناهیلو زمینه یی برابرکړ اودهغه دناهیلو عکس العمل د هغه د اګست د(لسم نیټی) تند او توده خبری وه چی په رسمی بڼه دافغانستان دمید یا دلاری پواسطه سره خپور شو اوهغه پخپل رسمی وینا کی په ډاګه کړ چی دپا کستا ن زعامت دی چی دطابانود پاره پخبل خاوره کی پټن خایونه جوړ کړی اوهغوی دترورستی فعالیتونو دپاره افغانستان ته لیږی چی دلته بیګناه افغانان ووژنی یعنی په هغه تنده لهجه پاکستان ته په خطاب کی خپل نفرت بی له کوم لاسته راوړنی تر سره کړ اوپه دی توګه د حسن همکاریو په لاره کی خنډ رامینځته شو .

------------------------------------ **په درنا وی**